Vale of White Horse District Council

# 2 ، مالي امور، پیسی اوبینیفیټز

## د اراپ پروګرام له مخې ستاسي حقوق

د بریتانیا اراپ پروګرام د ګټه اخیستونکي په صفت ( د افغانانو د ځای پرځای کولو او مرستې پالیسي) پروګرام تاسو او ستاسي د کورنۍ غړي کولای شي چې:

- په بریتانیا کې تر هغه چې تاسي اوغواړئ ژوند، کار او زده کړې وکړئ
- وړیا ګټو یا بینفیټو ته درخواست  وکړئ
- عامه خدماتو څخه ګټه پورته کړئ لکه عامه روغتیایي خدمات او مکتبونه
- په بریتانیا کې د پنځه کاله ژوند کولو وروسته د بریتانیا تابعیت غوښتنه وکړئ.

### که تاسي همدا اوس یا تازه بریتانیا ته راغلي یاست

تاسي ته به د اوسېدو بایومتریک جواز (بي آر پي) درکړل شي. دا په بریتانیا کې د ستاسي اوسېدو حق ثابت کوي او تاسي ددې جوګه کوي چې خپل هویت ثابت کړئ، په بریتانیا کی د بانکي حساب جوړولو لپاره د هویت تثبیت اړین وي.

ستاسي په بي آر پي کې به شامل وي:

- ستاسي نوم، د تولد او زیږېدو نېټه
- ستاسي د ګوتو نښې یا چاپ او ستاسي د مخ عکس (همدا بایو متریک معلومات دي)
- ستاسي د مهاجرت حالت او ستاسي د اوسېدو شرایط
- دا چې آیا تاسي د عامه خدماتو لکه نقدی مرستو یا بینیفیټز او روغتیایي خدماتو څخه ګټه اخیستلای شئ که نه. په دغه برخه کې به د ستاسي ټولنیزو چارو ملاتړ افسرله تاسو سره مرسته وکړي.

## نقدي کومک یا بینیفیټز او د پیسو مشورې

په یوه بل وطن کې ژوند کول، د شیانو نرخونو، د کور مصارفات بلونه اود اړتیا وړ شیانو اخېستلو سره بلدتیا یو اندازه وخت نېسي. ستاسو د ټولنیزو چارو ملاتړافسر به هر وخت د ستاسي لاربنوني ته موجود وي تر څو تاسو په دې پوه شئ چې بینیفیټز څنګه کار کوي او دا چې تاسي د محلي ادارو یا بنسټونو په مرسته څنګه خپلې پیسې اداره کولای شئ لکه د ښاریانو مشوره یا سیټزنز اډوایس (0808 278 7907).

د نقدي کومکونو له جملې یو یې یونیورسل کرېډېټ ده چې تاسو ورته مستحق یې او ورته درخواست کولای شئ. دا نقدي مرسته د هغو خلکو لپاره ده چې کم عاید ولري او یا بی کاره وي. چې شامل د کور مصارفو او ماشومانو مصارفو لپاره مرسته کوي او د هغه خلکو سره هم مرسته کوي چې معیوب وي، د کور غړو خدمت او پالنه کوي او یا دومره مریض وي چې د کار کولو توان و نه لري. غوښتنلیکونه عموماً په آنلاین بڼه اجرا کېږي.
تاسي کولای شئ چې دلته غوښتنه وکړئ:
www.universal-credit.service.gov.uk/start

د آنلاین غوښتنې لپاره تاسي له ځان سره باید لاندې شیان ولرئ:

- بانکي حساب
- ستاسي برېښنالیک یا ایمیل
- موبایل تیلیفون
- د هویت تثبیت یا کارت

Vale of White Horse District Council

# 2 ، مالي امور، پیسی اوبینیفیټز

که چېرې تاسې د یونیورسل کریډیټ غوښتنه کې مرستې ته اړتیا لرئ، د ښاریانو مشورو یا سیټیزنز اډوایس ته زنګ وهلی شئ او د درخواست کولو مشاور سره خبرې کولای شئ. که چېرې تاسې په بله ژبه لارښوونې ته اړتیا لرئ کولای شئ د ترجمان غوښتنه اوکړئ.

د ټیلیفون په لیکه کومک د دوشنبې تر جمعې د سهار له 8 بجو د مازدیگر تر 6 بجو په 0800 144 8 444 شمېره غوښتلی شئ.
یا د انټرنیټ له لارې www.gov.uk/universal-credit/how-to-claim

**میاشتینی بودیجه**
دا ډېره اړینه ده چې تاسې په خپل میاشتینی عاید او مصارفاتو پوه شئ. تاسو باید خپله بودیجه وسنجوی تر څو ویوهېږې چې د بلونو ورکولو وروسته څومره پیسې ستاسو د خوراک او نورو مصارفاتو لپاره پاتې کېږي. ستاسو حمایوي آمرین له تاسو سره په دغه برخه کې کومک کولای شي.

**که بانکي حساب جوړول غواړئ**
تاسې کولای شئ چې بانکي حساب آنلاین جوړ کړئ او یا هم نږدې نمایندګې ته په خپله ورشئ او جوړ یې کړئ. د محلي نمایندګیو لست ددی دوسیې په محلي معلوماتو برخه کې موجود ده.
که چېرې بانکي حساب جوړولو کې کومک ته اړتیا لرې ستاسو و ټولنیزو چارو ملاتړ افسر له تاسې سره کومک کولای شي او یا هم تاسې:

- د ښاریانو مشورو یا سیټیزنز اډوایس ته زنګ وهلی شئ، که ترجمان ته اړتیا لرئ ترجمان هم غوښتلای شئ: 0808 278 7907

اکثره بانکونه د حساب جوړلو لپاره مشابه شرایط لري. تاسې باید خپل د هویت تثبیت اسناد له ځان سره ولرئ چې ستاسو نوم او فعلي آدرس وښیي لکه پاسپورټ چې تاریخ تیرنه وي، د برق یا اوبو بل او یا هم د هویت کارت. بانک به تاسې ته کارت (ډیبیټ یا کریډیټ کارت) او محرم کوډ/پین (ستاسې شخصي د هویت تثبیت نمبر) در اولیږی، هغه تاسې په دوکانونونو او ای ټي ام (د پیسو ورکړې اتومات ماشینونو) کې د نغدو پیسو اخیستلو لپاره کارولای شئ. بانکونه کولای شي چې خارجي اسعار یا پیسې په پاونډو تبادله کړي.

## بانکونه
د بانکونو نږدې نمایندګې شاید په لویو ښاریو کې وجود ولري. د تازه معلوماتو لپاره لاندې انټرنېټي آدرسي وګورئ.

- **بارکلیز بانک** www.barclays.co.uk/branch-finder
- **اچ اس بي سي بانک** www.hsbc.co.uk/branch-finder
- **لویډز بانک** branches.lloydsbank.com
- **نټ ویسټ بانک** www.natwest.com/search-results/locator.html
- **سانټندر** branchlocator.santander.com

## د انګلستان پیسې

که چېرې تاسې بریتانیا ته په اول ځل راغلي یاست، شاید د انګلستان له پیسو سره نابلده وی. بریتانیایي پاونډ '£' (جي بي پي) چې په سټرلینګ پوند هم پیژندل کیږي په ټول انګلستان کې رسمي پیسې دي. په هر پاونډ کې 100 پوله یا 'پنس' یا 'p' دي. پاونډ ته په عامیانه ژبه کې 'کوېډ' ویل کېږي. په اکثره ځایونو کې نغدې پیسې منل کیږي خو د نغدو پیسو پرته ځایونه مخ په زیاتیدو دی پدی معنی چې ورځ تر بلې خلک ډیبیټ کارټ کریډیټ کارت او د دموبایل اپلکیشن لکه اپل پی او ګوګل پي د خریداری او خدماتو لپاره کاروي.

# ۲ ، مالي امور، پیسی اوبینیفیتز

## سکې

| 1p | 2p | 5p | 10p | 20p | 50p | £1 | £2 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|



## نوټونه

£10




£5




£30




£20




مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې ځینی سوداګر د ۵۰ پونډ نوټونو په اخیستلو کی زړه نا زړه وی.

## څنګه کولاس شی چې خپل کور ته پیسي ولیږئ

بل ملک ته د څو لارو له لارې پیسي لیږلای شئ:

- د بانک له لاری لیږل: د خپل بانک سره د خپل بانکی حساب څخه د پیسو لیږلو پر لارو او دا چې څومره مصرف وربانذی راځی خبرې وکړئ.
- د پوسته خاني له لارې بین المللي حواله کولای شئ. له دې لارې تاسي کولای شی نغدې پیسې ورکړی ولې اضافي فیس لري.
- د نیوز ایجنټ له طریقه: دوی هم لکه د بل هر ډول بین المللي حوالي په څېرد ویسټرن یونین حوالي سیستم کاروي. ، دا په ډېرو ملکونو کې کارول کیږي او فیس یا کمیشن هم لري.

# 2 ، مالي امور، پیسی اوبینیفیټز

**پوسته خانه**
ددې لپاره چې خپل ځانته تر ټولو نږدې پوسته خانه پیدا کړئ، د دغه لینک څخه کار واخلئ
www.postoffice.co.uk/branch-finder

تاسي کولای شئ د هغه بانکونو له لارې چې تاسي په کې حسابونه لرئ او یا هم د پوسته خاني له لارې بهر ته پیسي ولېږی. بهر ته د پیسو لېږد باندې مصرف راځي. د مربوطه اداري سره یې واضح کړئ.
په ابینګډن، ډیډکاټ، فرینګډن، آکسفورډ، سویندن او وانټج کې نمایندګی شته دي.

**پوسته خانه**
په بریټانیا کې 'رایل میل' د پوست ملي سروېس ده. کله چې یو خط لیږی مهمه ده چې:

- 'پوست کوډ' او آدرس په خط باندې ولیکي.
- د عادي لېږلو لپاره 'دوهمه درجه ټاپه' او د ژر لېږلو لپاره 'اوله درجه ټاپه' واخلئ.
- هر چېرې مو چې د پوست بکسه ولیده په هماغه کې خپل خط واچوئ، د پوست بکسي په اکثره ځایونو او کوڅو کې موجودی دي.
- خورا مهم شیان کولای شي چې د امضأ اخیستو لپاره 'تعقیب' کړی ترڅو په محرمه او امن توګه ولېږدول شي. نور معلومات د رایل میل په لاندي ویب سایت کی موجوددي:- www.royalmail.com/sending

ټول معلومات د 2023 کال تر جون پوري سم دي.